پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

# دمور د مبارکی ورځو په درشل کی

دیو عاطفی اوغمشریک انسان اودیوافغان په صفت خپل ډیر له درناوی ډک هیلی او احترامات دموردورځی په مناسبت دنړی ټولومیندو اوخویندواوبیا په تیره افغانی غمځپلی مور ته وړاندی کوم هغه افغا نی مورته چی د هغه دزړه جګرګوشه د ناولی ، کرغیړنو ،انسان وژونکی جلادان او دپردیو لاس پوڅی چی د هغوی په زړونو کی د انسان اودانسانیت نښی اونښانی نه لیدل کیږی دبمونو اودانتحاری واسکټ پوشو په چاود نی سره دلاسه ورکړ اودغم په تغر کی نا ست دی – هوکی په یوه ټولنه کی مور هغه مهربان او دژوند د تکاملی پړاو هستونکې، مرسته کونکی او سمبالونکی غړی دی چی دهغه د مرستی اوپاملرنی په لړ کی انسان له د نطفی درامینځته کیدو څخه تر بلوغه پوری د خپل مور مواظبت او مراقبت ته ضرورت لری نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره په علمی بنی سره مور هستونکی ، زیږونکې ، روزونکې او هغه مهربان او خواخوږی شخصیت دی چی دهغه قد ر اودرنا وی پر هرچا اوبیا دهغه پر اولا اودهغه په کورنی باندی زیات باید اووسی-

دلته ځما مخاطب هغه سړی وژونکو نا انسان انسان نما و ته دی چی تاسی ولی دیو مور یا دیو خور یاد یو ترور اویا دیو ښځی ورور ، ځوی ، خور ، میره اویا دهغه جګر ګوشه ګان په راکټو ، بمونو ، انتحا ری کړونو باندی په بیرحمی سره له مینځه وړیی ، ایا دا اسلامی ، افغانی اوانسانی عمل دی ؟ نه داد هغو بی شخصیتو ، نامسلمانو ، وحشی ، شریر ، تروررسیت اود فساد پیشه ګانو عمل دی چی په هیڅ یوه تله سره نه تلل کیږی د ستا سی عمل یوشیطانی عمل دی چی که دقیامت پر ورځی باندی اعتبار لری اویا که داخرت په حساب اوکتاب باندی ایمان لری نودستاسو ځای په جهنم کی دی تاسی ولی خپل سر په خپل ګریوان کی نه کوي چی ولی کورنی د غم په تغر کی کینښنوی تاسی اصلاً نه داچی انسا ن نه یاستی بلکه افغان هم نه یاستی اوداځکه چی افغان له غیرته هیچا ته سر نه ټیټوی مګر تا سی بیا نه یواځی چی خپل سر پنجا بیا نو ته ټیټوی بلکه دهغو دکور په دروازو کی دنوکراود چوپړ په صفت دخپلو مردارو خیټو ډ کولو د پاره دخیرات کاسی مونیولی دی اودهغو په لمسون سره زمونږ بی ګناه افغا نی مور د غم په تغرکی کیښنوی – په هرصورت یوځل بیا ټولو افغا نی میندو ته د مور دمبارکی ورځ په را رسیدو سره مبارکی وایم اودهغو دښمنا نو ته مخ توری او دجهنم سکروټی غواړم .

زه خپل خبری په دی لاندی خپل یوشعرکی چی په هغه کی می دنادان اود ناپوه اوبی رحمو نا انسانانو آنځور کاړلی دی وړاندی کوم :

# اوهام

ته داوهام په دام کی گیر غټ دښمن دعلم اوپوه
بیگا نه له تمد نه هم نشین د څو ناپوه
د جاهل عرب خبری ستا د لاری مشعل
له دنیا خپل بی خبر هر باور دی په اټکل
په تسبیح اوسپین جامی نه پټیږی دی عیبونه
لیونی د حرص او آذ ستا دی ټول صفتونه
د خوبانو نخری تا ته ښکاری لویه گناه
چی په گټه دی څه نه وی هغه شمیری ناروا
دی لا تراوسه (مل) له عقله بیگانه دی
دی د حور اودغلما نو په انتظار دیارانه دی
***

*پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)*
*جرمنی ۲۰۱۶-۴-۲۷*